مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ولی نـاروغ

۲۰۲۱/۱۱/۱۷

# الله هـــو

الله هـــو ، الله هـــو ، الله هـــو
یـو ماشــوم د مــور پــه گـــیډه
پریښــتی تــرینــه چار پـیـــــــره
ورتـــه وایـــی
مبـــارک شـــه
مبارک شــــه
ځـــی دنیـــاتـــه ، ځـــی دنیـــاتـــه
هلـــته میــنه ده ، دوســتی ده
هلــــته مـــینه ده ، مســتی ده
هلــته هـــره خــوا هســتی ده
هلــته مـور ده ، هلتــه پلار دی
رنگ پـــه رنگ ښــکلی بهــار دی
الله هـــو ، الله هـــو ، الله هـــو
د ده نـــه لویـږی زړگی تـــه
ورتــه خــانــدی ورتـــه وایـــی
دا دنــــــیا ده زه پکـــی یـــم
نـــه بـــــیگا شـــته
نـــه ســــبا شـــته
نـــه رڼـــا شـــته ، نـــه هـــوا شـــته
نـه خـواږه شـــته ، نـه اوبـــه شـــته
خـــیالی گـــره زه دی نـــه منم پـــندونـــه
زه دی نـــه منم هـــوډونـــه
الله هـــو ، الله هـــو ، الله هـــو
شـــپه رڼـــا شـــی
دی پـــیدا شــــی
لـــه خپل اصل نـــه جـــدا شـــی
پـــه ژړا شــــی
ورو ورو ؤ غـــړوی ســــترگی
دی بـــینا شـــی
هــره خــوا نغمه ســـرا شـــی



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

الله هــو ، الله هــو ، الله هــو
د ســـــپیدو پــه منــاره کــی
د قـــرآن پـــه سیـــپاره کـــی
ورتــه وایـــی دا دنیـــا
بـــی بقـــا ده
راځــه ځـــو بلـــی دنیـــا تـــه
راځـــه ځـــو خـــپلی بقا تـــه
آسمـــانـــی ښـــکلی فضا تـــه
ابـــــــدیت او بســـم الله تـــــه
هلتــه بلـــه پاچـاهـــی ده
شــفاعت او خـــدایـــی ده
تـــر ابـــده زنـــده گـــــی ده
د ده نـــه لویـــږی زړگـــی تـــه
چـــي ربنتـــیا بله دنیا شـــته
چـــي ربنتـــیا بله دنیا شـــته
الله هـــو ، الله هـــو ، الله هـــو...

ولـی نـاروغ



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ